
استقلال خپلواکی

www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی  جمعه ۰٤ اگست ۲۰۲۳

# د احمد شاه بابا دیوان

## پنځمه برخه




### احمد شاه بابا او ملی وحدت

احمد شاه بابا د ملت په درد خبر یو سړی وو، ده لیدلي وه چه هر وخت د افغانستان ملت تر یوه جنډې لاندي د ملی وحدت په سیوری کي ټول شوی دي، هغه وخت نو دغه ملت د لوړتیا او نهضت پر آسمان لکه لمر داسي ځلیدلی، او هري خوا ته بریالی شوی دئ! احمد شاه بابا یو جهاندیده او ښاغلی یوه مشر وو، ده ته د پښتنو د تاریخ لوړي ژوري ټوله ښکاره وې! نو ځکه دغه ننګیالی او بریالی پلار د ملت د وحدت په لار کي ډیر زیار وکښل، ده د افغانستان هستیدونکی یې له امتیازه خپل زامن ګڼل، او ملت هم دئ "بابا" باله؛ د احمد شاه بابا په لوړو کارنامو کي د افغانستان د خلقو "ملی وحدت" دي، چه ده واړه اولس په یوه نامه سره ټول کي، او د هغو تفرقو او جګړو څخه چه د غلجی او درانی یا پښتون او تاجیک په منځ کي وې، و ئې ژغورلې.

که موږ د افغانستان په تاریخ کي پلټنه وکړو، دا به را ښکاره شي، چه د احمد شاه بابا دغه ”ملی وحدت“ فکر خورا پوخ وو، او د ده ټوله برې او فتوحات هم د دغه ملی وحدت په برکت مونده شوه. د افغانستان ملت، چه هر وخت د ملی وحدت لاس سره ورکړي دي، نو ئي د دغه په برکت ډیر سعادتونه نصیب شوي دي، د غزنوی شاهنشاهانو په وخت کي چه د زابلی محمود په مجاهدت د افغانستان ملت د وحدت او یووالي نعمت وموندی، نو هغه وو، چه د ګنګا له غاړي بیا د دجله او فرات تر غاړو پوري خلقو د غزنی تر بیرغ لاندي ژوند کاوه، او د دې وطن برم هري خوا ته موجود وو، تر دې اندازې چه د غزنی د شاهنشاها محمود زوی مسعود چه د خپل پلار له خواه د هرات د خواوو نائب الحکومه وو، غوښته ئي چه ټوله ایشیا د غزنی تر پاچهۍ لاندی کي، او ولاړ سي بغداد هم ونیسي، چه ټوله د اسلام دنیا، د پښتنو تر بیرغ لاندي په سواني ژوندون وکي، مګر افسوس چه د دغه لوړ عزم سره د ده پلار په غزنی کي وفات او د پښتنو د ملی وحدت رسۍ بیا وشلیده ٢٢ تر دغه وروسته هم د پښتنو د غوری، سوری، لودین، هوتکو شاهنشاهانو فتوحات ټوله د ملی وحدت په برکت شوي دي.

٢٢. وګوري تاریخ بیهقی ص ٧ طبع د کلکته، د ائل ایشیاتک سوسائتی له خوا.

احمد شاه بابا چه د پښتنو پاچا شو، د ده لمړی کار دغه وو، چه د افغانستان ټوله ملت او هستیدونکي ئي سره را ټول کړه. او دوی ئي ټوله بې له کومه امتیازه او بیله کومه فرقه زامن وبلل، هغه وو چه دې ملت بیرته د ورور ګلوي لاس سره ورکي، او د خپل مهربان او خواخوږي پلار په هدایت ئي بیرته خپل بایللي مجد او برم لاس ته راووست. د احمد شاه بابا د ملی وحدت وصایا او هدایات چه ډیر قیمتي دي، د ده په کلام کي په ښه ډول ذکر شوي دي، په دې پیرۍ کي چه زموږ د تجدد او نوی نهضت پیړۍ ده، موږ ته ښائي چه د دغه لوی پلار نصائح بیا عملي کړو، او په ښې غوږ ئي واروو.

احمد شاه بابا و خپلو زامنو او ګران اولس ته د ملی وحدت درس، د ملی عشق له سر چینې څخه ورکوي، هغه وخت چه د عشق او میني اور په زړه کي بل سي، دغه ”د ملیت مینه“ ټوله افراد د سړی په نظر کي بې له امتیازه یو شي کوي، او ټوله ملی ورونړ په یوه سترګه ګوري:

قافله د عشق راغلېه له کم خوا ده

پر زړګی باندي میشته کا څه غوغا ده

د ملیت د عشق جوپه چه د زړه پر کور کښته سي، په هغه زړه کي ټوله د ملیت ارکان ځای نیسي،
او د ملت ټوله لوی او واړه بیله امتیازه پکښي منل کیږي، او په یوه ډول مینه او محبت ور سره
کیږي، ځکه نو احمد شاه بابا هم د طوائفو تقسیم، او د قامو بیلوالي په یوه ملت کي فقط د (انا جعلنا
کم شعوباً و قبائل لتعارفوا) په سترګه ویني، او د ده په صائب نظر کي هغه څوک محترم او ښهٔ بلل
کیږي، چه و جامعې ته مفید وي، ځکه نو وائي:

ټولـه یـو دی که غلجی دی که اودلی

ښه هغه چه ئي د زړه ښيښنه صفا ده

د احمد شاه بابا توجه معنویاتو ته ده، نه مادیاتو ته! یعنی د انسان دپاره د شرف او لوړتیا مقیاس نه
"قومی امتیاز" ګڼي، او نه ظاهري کالي او لباس، بلکه د ده په نظر کي میړه هغه دی، چه په اجتماعی
ژوندون کي ئې وجود ملت ته ګټه رسونکی وي، او د ښو اخلاقو او مفیدو عملونو خاوند وي:

چه عمل یې د نیکی وي میړه هغه

که اغوستي ئې ګـدلـه د خـمتـا ده

تر دغه وروسته چه مهربان پلار، خپلو زامنو ته د ملی وحدت او د انسان د حقیقي امتیاز او لوړتوب
اصول وښوول، اوس نو ټوله ملت ته د ویښتوب او اتحاد ږغ کوي، او دوی د ملی وحدت خوا ته را
بولي، چه ټوله په ګډه د ملی لوړتیا د میندلو دپاره زیار وکاږي، او د ورور ګلوی لاسونه سره ورکي:

پښتانه دي ټوله لاس سـره یـو کاندي

چه مو نن غزا هر لوري شاوخوا ده

دغه و د احمد شاه بابا د ملی وحدت ږغ، چه موږ اوس په دغه پیړۍ کي د پښتنو غوږو ته ورساوه،
ځکه چه اوس تر پخوا لا ډیر موږ و ملی وحدت ته اړ او محتاج یو.

پښتانه ښایي چه د خپل تاریخ دغه مشعشع عصرونه تل په یاد ولري، او د ملی وحدت په ښکاره او
لویو ګټو پوه سي!

او په دغه وپوهیږي که سلطان محمود و، که غوری، که لودین و که سوری، که هوتک و که درانی
ټولو د ملی وحدت په سیوري کي لوړتیا موندلي وه و بس!

**د لوړ توب او بری لار**

نور بیا...